# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



سازمان انقلابی افغانستان

۰۶ می ۲۰۱۳

## د پاکستان ضد شعار باید د امریکایي یرغلګرانو ضد شعار سره یو ځای فریاد شي!

نړدې دولس کاله کیږي چې افغانستان د امریکایي او ناټویي امپریالیستانو لخوا اشغال شوی دی. له اشغال سره سم، زموږ هیواد د بربریت او جنایت په ټاټوبي بدل شو چې په کې لویدیځ امپریالیستان بې له ځنډه زیارکښ بیوزله ولس په بمباریو او ځمکنیو عملیاتو کې وژني او له هیڅ ډول جنایت ډډه نکوي. په ورته وخت کې ګاونډي هیوادونو، لکه پاکستان او ایران په تیرو نږدې دولسو کالو کې زموږ په هیواد کې په بیرحمی سره لاسوهنه کړې او په دې ډول یې نیغ په نیغه او یا هم په غیرمستقیم ډول د غربي نیواکګرو د اشغال د تداوم لپاره خدمت کړی دی.

پاکستان، د امریکا او انګلستان د لیوني سپي په څیر، په سیمه کې د ولسونو د داړلو لپاره ساتل شوی دی. د دې هیواد ارتجاعي او امپریالیست تراوه دولت، لکه څرنګه چې تل د خپل زیارکښه پرګنو د طبقاتي او ملي ګټو خلاف یون کړی، همدا ډول یې په سیمه کې د غربي امپریالیستانو ګټې خوندي ساتلې دي. افغانستان د سیمې هغه هیواد دی چې د پاکستان د ارتجاعي دولت د ناوړو موخو بلهاري شوی چې اکثره د امریکا او انګلستان د ستراتیژیکو تګلارو د پلي کیدو لپاره طرحه شوي دي. دا ستراتیژیکې تګلارې له امپریالیستي منځپانګې سره سم د هیوادونو د اشغال، لوټ او تالان لپاره پلي کیږي.

په داسې حال کې چې افغانستان د امریکایي ښکیلاکګرو او ناټویي متیازنو سرتیرو په ولکې کې دی او د پاکستان دولت او ځارګره اداره د همدې تیري او نیواک په چوپړ کې عمل کوي او د ښکیلاک د عمر د زیاتیدو لپاره، زموږ په هیواد کې د لاسوهنې تر څنګ له طالبانو ملاتړ او له ځینو ګوډاګي چارواکو پلوي کوي؛ په ورته وخت کې د افغانستان سرحدي ولایتونه د توغندیو موخه ګرځوي او د پولې پر چارو باندې ناندرې او شخړې راپورته کوي.

د ننګرهار ولایت په ګوشته ولسوالی کې وروستی ناندرې، د همدې ارتجاعي سیاست بله کړۍ ده چې عملاً د لویدیځو ښکیلاکګرو په ملاتړ او د همدې یرغلګرو په چوپړ کې تر لاس لاندې نیول شوې دي چې جرړه یې د امنیتي تړون لاسلیک ته رسیږي. ټاکل شوې چې د دې تړون په اډانه کې امریکایي اشغالګران زموږ په هیواد کې

دایمي اډې ولري. ګوشته ولسوالي چې له پاکستان سره همپوله ده، د ناټويي ښکيلاکګرو د يوې کوچنې اډې سيمه هم پاتې شوې ده چې دا ټولې ناندرې له همدې ځايه اوبه خوري.

ناټويي ښکيلاکګرو د دې سيمې په پرېښودو سره، عملاً زموږ د هيواد يوه برخه پاکستاني پوځيانو ته پرېښوده چې وربانديې ولکه واچوي. دغه کرغيړن چلند يو ځل بيا څرګنده کړه چې د افغانستان اصلي اربابان او مالکان ښکيلاکګر امپرياليستان دي او ګوډاګي او لاسپوڅي چارواکي يې هم هغه بې غيرته او بې وجدانه مرييان دي چې د وطن په خرڅولو نه يوازې نه درديږي، بلکه د سنداګانو په شان په جرګو کې د هيواد پلورنې رمباړې وهي.

تاريخ ښودلې ده هر کله چې يو هيواد خپل سياسي استقلال له لاسه ورکړی او ښکيلاکګر د هغه سياسي او اقتصادي واګې په لاس کې واخلي، هر نيواکګر، مداخله ګر، تالي څټي، نوکر او مزدور، جاسوس او مريي هڅه کوي چې د خپلو ګټو لپاره يې وځپي، ورټې، خرڅ يې کړي او پر غاړه يې د اسارت کړۍ لا راټنګه کړي. افغانستان، دم ګړۍ داسې يوې مور ته پاتې کيږي چې بهرنيانو وربانديې تيرۍ کړی او ګاونډيان يې په وحشتناکه ډول ځپي، خو ځينې حرمونې بچيان يې د بهرنې ښکيلاکګرو د غلامۍ کړۍ په خپله غاړه اچولې، اتڼ کوي او دا ظالمانه تيری «ملي منافع» ګڼي.

امريکا او نورو ناټويي متحدينو يې په تيرو څو کلونو کې د خپلو ګمارل شويو کارپوهانو او ډله ايزه رسنيو له لارې په بريالیتوب وکړای شول د ولسونو فکر او اند تر يوې کچې له اصلي دښمن (امريکا او ناټويي متحدينو) څخه د پاکستان لورې ته واړوي او خپل تجاوز، تيری، ښکيلاك، جنايت او ستم او بلوسګري د پاکستان د لاسوهنې تر سيورې لاندې پټ کړي. درجنونه کارپوهان چې ټول په يوه ډول نه يوه ډول له سفارتونو او مدني ټولنو څخه ډالرې تر لاسه کوي، پاکستان يې په هغه لويه بلا بدل کړی چې ګواکې د ټولو بلاګانو زيږونکې ده. حال دا چې پاکستان د يوه ارتجاعي او چوپړي دولت په توګه د امريکا او انګلستان د نيواکګرو سياستونو په خدمت کې نه ستومانه کېدونکې منډې وهي او د طالبانو د سمبالولو له لارې زموږ د هيواد ارتجاعي جګړې ته شدت او تداوم وربخښي.

د افغانستان انقلابي سازمان په دې باور دی چې دا مهال، اصلي بلا د امپرياليستانو يرغل دی چې د لسګونو نورو بلاګانو زيږونکی دی، او يو له دې بلاګانو څخه د ګاونډيانو لاسوهنه ده چې د همدې يرغل په خدمت کې تر سره کيږي. دا تيری، يرغل، نيواک، ښکيلاک او د امپرياليستانو بې ځنډه جنايت او بربريت او وحشت دی چې زموږ په هيواد کې يې بيلابيلې بلاګانې زيږولې دي چې بايد لومړی د دې بلاګانو مور (امپرياليستان) له منځه يووړل شي څو د نورو بلاګانو د زوکړې مخه ونيول شي. دا بلا يوازې هغه وخت تري تم کيدای شي، چې د خپلواکی، آزادی او برابری تر بيرغ لاندې ولسي پيوستون په ملي پاڅون بدل شي.

د افغانستان انقلابي سازمان په دې اند دی چې هغه ورځ کولای شو د ګاونډيو له لاسوهنو څخه ځان خوندي کړو، چې ربښتينې خپلواکۍ لاس ته راوړو. د يوه هيواد په توګه هغه وخت خپلواکه اوسيدلای شو چې د استقلال او خپلواکۍ مورچلونه د ښکيلاکګرو په وينو سره کړو؛ د ډاکټر برايډن شرمجنه پيښه يو ځل بيا نه يوازې انګريزانو ته بلکې امريکاييانو او نورو ناټويي ښکيلاکګرو ته وروپه ياد کړو. او دا هغه وخت کيدای شي چې ټول شعارونه د امريکا او ناټويي ښکيلاکګرو او د هغوی د تالي څټو ضد شعار سره همغږي او يو ځای فرياد شي.

**مړ دې وي امپرياليزم**

**د سوسياليزم په لور، مخ په وړاندې!**

د افغانستان انقلابي سازمان

د ۱۳۹۲ د غويي ۱۴